بسم الله الرحمن الرحيم

د  افغانستان د متحد ملت گوند اساس نامه
د گوند اساس نامه
لومړی ځپرکۍ
عمومي احکام

## 1.لومړی ماده:

د دي سياسي سازمان نوم متحدملت گوند دی.

2.دوهمه ماده:

د دي گوند اساس نامه اته(۸) ځپرکي يوديرش(۳۱) مادي او متفرقه احکام چي په ياد شو يوديرش(۳۱)مادو کې داخل  دي لري.

## 3.دريمه ماده:

متحد ملت گوند ملي،ټولنيز،سياسي،ناپيلی او غير دولتي خپلواک اوسراسري گوند دی،چه د اساسي قانون د پنځه ديرشمي(۳۵) مادي او د سياسي گوندونو د شپږمي(٦) مادي د دريم(۳) جز له حکم سره سم فعاليت کوي ، د افغانستان د عدليي وزارت  سره راجسټر شوی او خپلو موخو ته د رسيدلو لپاره د نافذه قوانينو په رڼا کي خپلي گوندي مبارزي ته ادامه ورکوي.

## 4.څلورمه ماده:

گوند ځانګړی نښان،مُهر او خپرندويه ارگان لري چي د گوند د ځانګړو قوانينو لخوا تشريح او تسوی ديبږي.

## د وهم ځپرکی

5.پنځمه ماده:

د گوند داخلی اصول،موازين او مقرارت

- د متحد ملت گوند ټول مقامات انتخابی دی
- د گوند داخلی ټاکني د کړنلاري له مخي په سری او مستقيمه  توگه سر ته رسيږي.
- د گوند د غونډو دتدوير نصاب او پريکړي د دوه پر دری برخی غړو شتون او   د اکثريت (پنځوس جمعه يو) پر بنسټ تر سره کيږي.
- په غونډوکې د اکثريت رايو ته اعتبارورکول.
- په پريکړو کې د شفافيت اصل ته پوره پاملرنه کيږی.
- مياشتنی حق العضويت پنځوس(۵۰) افغانی،حق الشموليت سل (۱۰۰)  افغانی،او بسپنه داوطلبانه ده.
- گوند په خپلو کړنو کې د افغانستان اساسي قانون،د سياسي گوندونو قانون او نور نافذه قوانين په کلکه په پام کې نيسي.
- د گوند مرکز د هيواد په پلازمينه کابل کې دی او نور ي څانگي يي د افغانستان په ټولو ولايتونو،اولسواليو،کليو،دکارځايونو،ناحيو،ښارونو اونورو سيمو کې    د اړتيا سره سم ايجاديږي.
- په گوند کې يو شان نظم او دسپلين اړين گڼل کيږی.

- د تګ لاري او سياسي کړنلاري يو والی لازمی دی.
- د ګوند د غړوترمنځ متقابل احترام په کلکه مراعات کيږی.

دريم څپرکی

## د غړيتوب شرطونه

## 6.شپږمه ماده:

١.هر افغان چي اتلس (١٨) کلن وي د سياسي فعاليت اجازه و لري،په ملي خيانت،د بشري حقوقو په تيري،د عامه او شخصي شتمنيو په چور تورن او محکوم شوی نه وي پرته له قومي،جنسي،مذهبي،علمی،ژبني او سمتی توپيره کولای شي د دي ګوند غړيتوب د ګوند د اساس نامي په منلو سره سم تر لاسه کړي.

٢.دبا صلاحيته محکمی لخوا تريوکال په زيات تنفيذی قيد محکوم شوی نه وی

٣ګوند ته راتلونکی کس بايد د بل ګوند غړيتوب و نه لري.

٤.په امنيتي او قضايي چارو کي بالفعل دنده و نه لري.

٥.د ګوند اساس نامه او مرام نامه به مني او د هغه په رڼا کي به خپل کارونو ته دوام ورکوی

٦.په ګوندي غونډو کي بايد فعاله برخه واخلي او پريکړي يي پر ځان عملي کړي.

٧.حق العضويت په منظمه توګه ورکړي.

## ګوند ته دغړيتوب دمنلو بهير

## 7. اوومه ماده:

١- ګوند ته راتګ داوطلبانه دی. ليوال کس په انفرادي توګه داستوګني دځای يا دکار دمحل يوي شورا ته په ليکلي ډول خپله غوښتنه وړاندي کوي ، دګوند ديوباصلاحيته غړي لخوا په تضمين سره ګوند ته منل کيږي.

٢-ګوند ته په ډله ايز ډول منل دليکل شوي غوښتنليک پر بنسټ د رهبری شورا دمنظورئ وروسته ترسره کيږي.

٣-سيمه ايزی شوراګاني مکلفي دي چي د درو مياشتو په موده کي د داوطلب غوښتنليک بررسي اوګوند ته دمنلو يا نه منلو په هکله واستوی .

۴ -هغه شخص چي دګوند غړ يتوب ترلاسه کوي داړوندو څانګو لخواورته دګوند مخصوص کارټ چي شکل اومحتوا يي رهبري شورا تصويب کړی ورکول کيږي.

د ګوند غړيتوب له لاسه ورکول:

## 8.اتمه ماده:

١.له معقول عذر څخه پرته د ګوند په دريو پرله پسي غونډو کي نه ګډون .

٢.له معقول عذر څخه پرته دري مياشتي پر له پسي حق العضويت نه ورکول.

٣.په خپله خوښه په ليکلي توګه نږدي اړوندي ګوندي شورا ته خبر او د ګوند څخه استعفا ورکول.

۴.په ګوند کي په فرکسوني مبارزه اويا ملي خيانت تورن شخص چی شواهد ورباندی موجود وی د اړوندي شورا د دوه پر دري حاضرو غړو له تصميم سره سم د ګوند غړيتوب له لاسه ور کوي.

٥. ګوند په هيڅ صورت دتجزيی او ډلبازيو قابل ندی دغه ډول هڅی دګوند د اساسنامی او مرامنامی له مخی يو نه بښونکی عمل ، د مرتکبينو د مجازات اوفوری اخراج لامل ګنل کيږی.

دګوند دغړوحقوق

## 9.نهمه ماده:

## دګوندهر مؤسس غړی لاندي حقوق لري:

۱- په ګوند کي د ټاکنو له لاری مقام تر لاسه کول.
۲- په ګوندي غونډوکي داجنډا پر شاملو موضوعاتو ازادانه بحث اوتصميم نيول، خپل نظريات ،نيوکي اوورانديزونه په روښانه ډول وړاندي کول.
۳- دګوند دهر مؤسس غړي دکړنو په هکله د ګوندی باصلاحيته مراجعو د څيړونو په وخت کي په ازادانه توګه مشروع دفاع کول.
۴- په داسي حالت کي چي دګوند د يو غړی پر شويو پريکړو نوموړی قناعت و نه لري کولای شي خپل شکايت او د فيصلي نه منل په ليکلي ډول اړوند چاروا کو ته وړاندي کړي.
۵- د ګوند هرمؤسس غړی کولای شي د دي اساس نامي داحکامو په رعايت ګوندي مقاماتو ته ځان ونوموي يابل مؤسس غړي ته رايه ورکړي.
٦- د ګوند هر مؤسس غړی يوازی د يوی رای حق لری.

## دګوند دغړو وجايب اومسئوليتونه:

## ۱۰.لسمه ماده:

دګوند هرغړی لاندي وجايب اومسئوليتونه لري.
۱- ملي اوګوندي ګټو ته د شخصي ګټو په پرتله ترجيح ورکول.
۲- دګوندي پريکړو د تحقق په لاره کي پرله پسي تلاش او هڅه کول.
۳ -په ټولنه کي دګوند د هدفونو تبليغ اوترويج.
۴ -ګوندي نظم او دسپلين په جدي ډول مراعاتول.
۵- د قومي،ژبني،سمتي او داسي نورو ناوړه تحرکاتو څخه په کلکه ځان ساتل.
۶- د ټولنيزو او فردي حقوقو او آزاديو په کلکه رعايت او درناوی کول.
۷- د سياسي او مسلکي زده کړو د کچی د لوړولو لپاره په پرله پسي توګه هلي ځلي کول.
۸- د ټاکنو او رايي ورکولو په وخت کي وړتيا،پوهي،د زده کړو کچه،تخصص،کاري تجربي،صداقت او ټولنيز نفوذ ته پوره توجه او پاملرنه کول.
۹- ديني،مذهبي،ملي او کلتوري ارزښتونو ته د رناوی کول.
۱۰- د ټاکلي لايحي له مخي په منظمه توګه دغړيتوب حق ورکول.
۱۱- د ګوند دتګ لاري سره سم د ګوند د هدف د پلي کولو لپاره د مرستو او روا سرچينو پلټنه او په کار اچول.

ګوندي مکافات:

## 11.يولسمه ماده:

د ګوند هر غړي دصادقانه اوريښتونو هلو ځلو له کبله دګوند داړونده مراجعو لخوا (رهبری شورا،اجراييه شورا،ولايتی شورا،مشرتابه هيت،اولسواليو،ناحيو اوکليو شوراګانو) لخوا داساسنامي له تګ لاری سره سم په مادي او معنوی مکافاتو ستايل کيږی.

## ګوندي مجازات:

## 12.دولسمه ماد:

د ګوند د اساس نامي،مرام نامي او ګوندي پريکړو پر ضد په پټه يا ښکاره ډول دکومی هڅی د ترسره کولو د اثبات په صورت کي د ګوند غړي د تګ لاري سره سم په لاندی ډول مجازات کيږی:
۱- سرغړونکي ته لومړی توصيه.

۲- شفاهي اخطار.
۳- ليکلی اخطار.
۴- سرغړونه يي په ګوندي سوانحو کي درجول.
۵- دګوند دغړيتوب تعليق.
۶- دګوند څخه اخراج (ايستل ) دګوند دغړيتوب کارت ورڅخه اخيستل اوپه کارت کي دموضوع درجول،دا او ديته ورته نور اسناد دګوند داوراقو (ارشيف) په څانګه کي ساتل کيږی
۷. که چيری جرم سنګين ،خطرناګ ، دملی اوګوندی ګټو خلاف وی رئيسه هيت په عاجله توګه صلاحيت لری تر څو د نوموړی شخص غړيتوب تعليق ياله ګوند څخه د مرتکب د ايستلو په اړه لازم تصميم ونيسی.

# څلورم څپرکی

## 13. ديارلسمه ماده:

دبسپني سرچيني او پر هغو باندي څارنه
۱- دګوند دغړودمياشتنی حق العضويت،مرستي او د خپرونو د خرڅلاو له لاری پولي عوايد لاس ته راوړل
۲- دهيواد د ملي شتمنو(تاجرانواوخصوصی پانګه والو) بي قيده او شرطه مرستي.
۳- دګوند د منقولو اوغيرمنقولوشتمنيو څخه لاس ته راغلي عوايد.
۴- دهيواد د نافذه قوانينو په رڼا کي د نورو مشروع مالي سرچينو پلټنه او پيداکول.
۵ - د ګوند ټول عوايد د ګوند مالي حساب ته ليږل کيږي.
۶- دګوند هره شورا دطرزالعمل مطابق کولای شي د خپلو عوايدو څخه د ګوند په ګټه کار واخلي.
۷- د ګوند د لګښتونو اسناد د ګوند د تشکيلاتو مالي مسئول ،دکنټرول او نظارت د کميټي د يوه غړي د لاسليک په صورت کي د مجرا وړ ګڼل کيږي.
۸- د ګوند د عوايدو انتقال بانک ته او د ضرورت په وخت کي په معين مقدار د هغه څخه بيرته اخيستل د اوومی فقری له حکم سره سم د لاندي اشخاصو او ارګانونو په واک کي دي.
رهبری شورا ، اجراييه شورا، رئيسه هييت، د ګوند دتشکيلاتو مسئول ، مالي مسئول اوپه ولاياتوکي د ولايتی شورا مسؤلين.
۹ -ګوند د هيواد په داخل کي يواځي يو بانکي حساب پرانيستلای شي.
پنځم څپرکی
دانتخابيدلو او انتخابولو حقوق اوځرنګوالی.

## 14. څوارلسمه ماده:

### دګوند په داخلي ټاکنو کي ګډون:

۱- د ګوند هر غړی د هر ډول تبعيض او ځانګړي امتياز پرته کولای شي د ګوند د غړو د باور د تر لاسه کولو لپاره د ګوند په داخلي سياست کي د ازادو او مستقيمو ټاکنو له لاري ځان نوماند کړي.
۲- د ګوند هر غړی کولای شي چي د لوړو پوسټونو لپاره دقانوني معيارونو په درلودلو سره دګوند د اساس نامې سره سم د کلي د کچي څخه د هيواد تر ولسمشری پوري د سياسي نظام په ټاکنو کي د ګوند په استازيتوب ځان نوماند کړي ، په دي شرط چي په اړونده شورا کي د ګوند د اکثريت غړو تائيد يي ترلاسه کړی وي.
۳- دګوند نوماند چي د ولسمشری په تيرو دريو ټاکنو کي بريالی شوی نه وي د ولسمشری لپاره د بيا نوماندی حق نه لري ، د سياسي نظام دا قيد يواځی د ولسمشری لپاره دئ.

۴- درايي ورکولو په وخت کي بايد د گوند غړي د نوماند تقوا ، تحصيل ، صداقت ، پوهه ، ملي گټو ته ژمنتيا، ظرفيت او مديريت په نظر کي ونيسي.
4 - انتساب،غير ديموکراتيک عمل دی په هيڅ ډول دمنلو وړنه دی دگوند هيڅ غړی نشی کولای له دغسی لارو د گوند ملاتړ ترلاسه او ټاکلی امتياز ته ځان ورسوی.

## شپږم څپرکی

## دگوند سياسي اړيکي

## 15. پنځلسمه ماده:

## په گوند کي مدغميدل:

دگوند رهبری شورا واک لری هغه ډلي ، کړی اوسياسي سازمانونه چي دگوند اساس نامه او برنامه ومني او پخپله خوښه د گډ فعاليت ليوال وي د تګ لاري سره سم په گوند کي مدغم کړي.

## 16. شپاړسمه ماده:

سياسي يووالی:
۱- هغه بنسټونه،سازمانونه اوگوندونه چي د گوند هدفونه او پاليسی د خپلو هدفونو او پاليسيو سره جوړ او موافق گڼي، مګر غواړي چي خپلواک هويت ولري رهبری شورا کولای شی چي دوئ د گوند دمتحدينو په ډله کي شامل کړي.
۲- رهبری شورا واک لری چي د گوند او متحدينو گډي غونډي جوړي،پر ملي او نړی والو مهمو مسايلو بحث وکړي اوتصميم ونيسي.
۳-هغه ډلي اوسازمانونه چي د گوند سره په مشخصو هدفونو کي همغږی وي د رهبری شورا صلاحيت دی چي د نوموړو سره دگوند سياسي ائتلافونه تنظيم اومنځ ته راوړي اوپه گډه سره داسي پاليسي وړاندي کړي چي دگوند هدفونه پياوړي کړي.
۴- رهبری شورا واک لري د ستراتيژيکو،سياسي مشروع هدفونو او سياليو ته درسيدو په موخه د سياسي متحدينو او ائتلافي ډلو څخه د گوند په ترون سياسي جبهه رامنځ ته کړي.
۵- پورته ذکر شوي ټول موارد د اساسنامي داحکامو له مخي پلي اوتنظيميږي.

## اووم څپرکی

دگوند تشکيلاتي جوړښت

## 17.اولسمه ماده:

گوند لاندی مرکزی او سيمه ايز ارگانونه لری:
۱. د متحد ملت گوند موسسين
۲. عمومی مجمع ( کنگره)
۳. عالی ( رهبری ) شورا
۴. رئيسه هييت
۵. اجراييه شورا
۶. دارالانشاء
۷. مرکزی کميتی
۸. ولايتی شوراګاني
۹. د ولسواليو شوراګاني
۱۰. ښاری او ناحيوی شوراګاني

۱۱. سیمه ایزی شوراګانې
۱۲. کلیوالی شوراګانې

## 18 اتلسمه ماده:

د مؤسیسنو شوری :

۱. مؤسیسنو شوری د ګوند له لومړنیو متفکرینو او نخبه ګانو څخه جوړه ده چې په لومړیو غونډو کې یې د شمیر او لیست په هکله پریکړه شوی ده.

۲. مؤسسه شورا د اساسنامې د احکامو په رڼا کې د لومړني ټولیزی غونډې تر جوړیدو پوری د کنګری او عالی شورا ټول واکونه او دندې پرمخ وړی .

۴. دګوند د انحلال ، ادغام، ایتلاف اوداسی نورو سرنوشت ټاکونکو چارو په اړه د ټولیزی غونډې او عالی شورا پریکړی د مؤسسی شوری په تفاهم صورت نیسی .

## 19. نولسمه ماده:

کنګره یا ( ټولیزه غونډه)

۱.کنګره د ګوند تر ټولو لوړ مقام دی، چې په څلورو کلونو کې یو ځل غونډه کوي او د اړتیا پر وخت کیدای شي د مؤسسی شوری د غړو د رآیو په اکثریت او یا د اجراییه شورا د دوه پر دري برخو غړو په غوښتنه هر وخت دایریدلی شی.

۲. دکنګری لومړنۍ غونډه د ګوند له تاسیس څخه یو کال وروسته جوړیږی.

۳. مؤسسه شورا کولای شی دغه وخت تمدید کړی، پدی شرط چې تر یوه کال زیات نه وی.

۴. دغونډې اداری هییت (رییس،مرستیالان اومنشی) دکنګری دغړو په واسطه د ټاکنو له لاری ټاکل کیږی ۵. دکنګری غونډې علنی وی، پټی غونډې دمجلس د اکثریت رایو په اساس دایریږی .

۶. کنګره د خپلو غونډو او نورو کاری چارو لپاره ځانګړی تګلاره وضع کوی.

## 20. شلمه ماده:

د ټولیزی غونډې (کنګري) دندې او واکونه

۱.د رهبري شورا او د کنټرول مرکزي کمیسیون غړي په سري اومستقیمو رایو ټاکي.

۲.د یاد شوو شورا ګانو د اجراتو راپور اوري، ارزونه یی کوي او خپلې پریکړې صادر وي، د نوموړو شوراګانو غړي د افغانستان د مرکز، ولایتونو ، ولسوالیو، کلیو او باندو څخه د انتخاباتو له لاري د ګوند د غړو د شمیر په انډول ټاکل کیږي.

۳.درهبري شورا رئیس، مرستیالان او منشیان د څلورو کاله لپاره د انتخاباتو له لاري ټاکي.

۴. په ملي او نړیواله کچه پر مهمو مسایلو د افغانستان د اساسي قانون سره سم غور او څیړني کوي، د خپل روښانه دریځ اعلان کوي،خپل تصمیمونه او پریکړې اعلانوي د کنګري پریکړې د غړو دوه پر دري برخو رایو ته اړتیا لری.

۵.د ګوند نوم ،نښان، بیرغ،خپروني او ګوندی ترانی تصوییوی.

۶.د ګوند د تګ لاري ټاکل او تصویب.

۷.د څارني او شکایاتو د رسیدني د کمیسیون د اجرااتو د راپور څیړني او ارزوني په هکله یی لازم تصامیم نیول

۸. د تیري شوي عمومي غونډې د تصمیمونو د پایلو ارزونه کوی.

۹. پخپله لومړنی غونډه کي د ګوند تګلاره او کړنلاره تصوییوی او که اړتیاوی بدلون پکی راوړی.

۱۰. انحلال، ادغام او او اءیتلاف دعالی شوری تصمیم ده یعنی پنځوس جمعه یو ۱+۵۰

## 21. یویشتمه ماده:

رهبري ( عالی ) شوری:
۱. ترکنګری وروسته د ګوند لوړ اوفعال ارګان دی چي غړی يي د ګوند پرلومړنيو متفکرينو او موسسينو برسيره د ولايتی شوراګانو رئيسان او دګوند هغه غړی دي چي د کنګري د نمايندګانو لخوا د ټاکنو له لاری دګوندی غړو د کميت په تناسب کيږی.
۲. د مؤسسی شورا غړی پدی شرط چي د اساسنامي او مرامنامي ټولو مندرجاتو ته وفادار پاتی وی په امتيازی توګه د عالی شورا غړی دی.
۳. د عالی شورا رئيس، مرستيالان اومنشی د رئيسه هييت چي په عين حال کي د ګوند رهبری هم ګڼل کيږی د کنګری لخوا ټاکل کيږی .

## 22. دوه ويشتمه ماده:

دعالی شورا دندي او واکونه:
۱. عالی شورا د ازادو او ديموکراتيکو ټاکنو له مخی د اجراييه شورا غړی اود کميټو مشران ټاکی.
۲. عالی شورا د ګوند د کنګری د دوو غونډو تر منځ د ټولو ګوندی چارو مسؤليت د ګوند د کړنلاری او تګلاری سره سم په غاړه لری او دخپلو کړنو څخه کنګري ته ځواب ورکوی.
۳. عالی شورا لږ ترلږه په هرو شپږو مياشتو کي خپله عادی غونډه کوی د اړتيا په وخت کي د يو پر دری برخه غړو په رايه کيدای شی، د رهبری شورا فوق العاده غونډي جوړی کړی.
۴. د کميټو او کمسيونو ايجاد ول او دهغو مسؤليتونو ټاکل .
۵. د بوديجی او دحق العضويت د اندازی تصويب او ټاکل .
۶. د ګوند د راتلونکی پلان ، صنفی او مسلکی اتحاديو او انجمنونو تصويبول.
۷. د رئيسه هييت او اجراييه شورا راپور اوريدل او اړينی لارښوونی ورته کول.
23. درويشتمه ماده:
د رئيسه هييت جوړښت:
۱. رئيسه هيت د ګوند د مشر او د هغه د مرستيالانو او منشي څخه عبارت دی. چي د ګوند ټولي چاري د رهبری شورا د دوو غونډو تر منځ موده کي پر غاړه لري. رئيسه هئيت رهبری شورا ته مسؤليت لري او د خپلو اجراتو څخه راپور ورکوي .
۲.رئيسه هييت د ګوند پر ر هبری برسيره د عالی شورا رياست هم پرغاړه لری.
۳. د رئيسه هييت د مشر په غياب کي يي لومړی مرستيال بيا دوهم مرستيال او د دريو واړو د نشتون په صورت کي د ګوند منشی دهغه دنده پرمخ وړی.

## 24. څلورويشتمه ماده:

د ګوند د رئيس وجايب اومسؤليتونه:
۱.د ګوند مشر د ګوند روزمره چاري د ګوند د کړنلاري او تګلاري سره سم مخکي وړي ، د ګوند د کنګري او رهبري شورا د پريکړو او تصاميمو د پلي کولو مسؤليت په غاړه لري او نومړو شورا ګانو ته دخپلو کړنو د راپور ورکولو مکلفيت لري.
۲.د رئيسه هييت او رهبری شورا غونډي د ګوند د مشر (رئيس) تر مشري لاندی دايريږي، په هغه صورت کي چي رئيس حضور و نه لري د رئيس د لومړي مرستيال او بيا د دوهم مرستيال تر مشري لاندي جوړيږي.
۳.د ګوند مشر د مرکزي اختصاصي کميسيونونو رئيسان د اجراييه شورا په وړانديز دهمدغی شورا اويا هم رهبری شورا له غړو څخه ټاکی.
۴.دګوند مشر په داخلي اوخارجی چاروکي دګوند استازيتوب کوي.
۵.دګوند رييس صلاحيت لری چي دګوند لپاره وياند انتخاب کړی.

۶. دګوند رييس د ټوليزی غونډي  له لوری د سری او مستقيمو رايو له مخی د څلور کلونو لپاره ټاکل کيږی.
۷. دګوند رييس په ټاکلی موده کې له مؤجه عذر پرته استعفا نشی کولای  او دعذر په صورت کې د هغه استعفا يا د اصولو خلاف د کوم تور د ورباندی لګيدلو په صورت کې د هغه دکوښه کولو د پاره د عالی شورا دوه ثلثه غړی کنګره رابولی او لازمه پريکړه کوی.

## 25 .پنځه ويشتمه ماده:

اجراييه شورا:
۱. نوموړی شورا پخپله لومړنی غونډه کې اجراييه هييت ټاکي.
۲.اجراييه شورا د رهبري شورا څخه وروسته د ګوند عالي مقام دی. نوموړي شورا د رهبري شورا د دوو غونډو تر منځ د ګوندي چارو د مخ ته بيولو مسؤليت لري. د اجراييه  شورا  غړي د رهبری شورا له خوا د ګوند د غړو د شمير په پام کې نيولو سره ټاکل کيږي.
۳.اجراييه شورا په انفرادي او مجموعي ډول رهبري شورا  ته مسؤليت لري او د خپلو اجراتو د راپور څخه رهبری شورا ته مکلفيت لري.
اجراييه شورا وروسته له هغه څخه چي خپله کاري تګ لاره تصويب کړی د عالي شورا له پريکړو سره سم د ګوند دکار په ټولو ساحو کي اختصاصي کميسيونونه جوړوی.
۴. اجراييه شورا په مياشت کي يوځل خپله عادی غونډه داير وی او د اړتيا په وخت کي فوق العاده غونډه د اجراييه شورا د غړو د رايو په اکثريت او يا دګوند د مشر ( رييس) په بلنه دايروی
۵. د مرکزی کميټو او ولايتی شوراګانو مشران يعنی مؤسيسين د اجراييه شوری غړی دی.

## 26. شپږ ويشتمه ماده :

داجراييه شورا دندي او واکونه:
۱. دتګلاری اوکړنلاری د مندرجاتو په رڼا کې د عالی شورا او رئيسه هييت د لارښوونو د تطبيق لپاره معقول تدابير نيسی.
۲. دکميټو دمشرانو او غړو د فعاليت څارنه کوی او په اړه يې عالی شوراورئيسه هييت ته راپور ورکوی
۳. د ولاياتو مرکزی دفترونه څاری اود ستونزو په اړه يې رئيسه هييت ته خبر ورکوی.
۴. دغونډو، سيمنارونو، علمی او ادبی کنفرانسونو او لمانځ غونډو په اړه وړانديزونه کوی.
۵. دحرفوی او مسلکی کدرونو د جلب،جذب او تقرر په اړه لازم اقدامات کوی .
۶. دنويو جذب شويو غړو دغړيتوب دمنلو يا ردولو په اړه تصميم نيسی.
۷. دولايتی او سيمه ايزو دفترونو راپورونه اوری او غور ورباندی کوی.
۸. دحق العضويت ، حق الشموليت او نورمالی حسابونه کنترولوی.
۹. دحزب کلنی بوديجی او نورو پرمختيايی چارو په اړه طرحی او وړانديزونه ترتيبه وی.

## 27. اووه ويشتمه ماده:

دګوند دارالانشاء:
۱. دګوند د منشی تر مشری لاندی د اجراييه شورا پر دريو تنو انتخابی غړو برسيره له يو شمير فنی او مسلکی کسانو څخه دګوند مرکزی دارالانشا جوړيږی.
۲. دارالانشا له اجراييه شورا سره په تفاهم او همکاری کي د ګوند په ورځنيو اداری ، مسلکی ا ولوژستيکی برخو کي فعاليت کوی .
۳. دکاری پلانونو مسودی جوړه وی .

۴. دغونډو اجنډاوی، د رايو توحيد او دتصاميموترتيب،ثبت او راجستر کوی .
۵. دګوند ولايتی شوراګانو دغړوليستونه، دهغوی کارتونه او نور اړين اسناد ترتيبه وی.
۶. پر ټاکلی وخت دګوندی مجالسو غړو ته بلنه او دپريکړو ابلاغ ورکوی.
7.اونوری هغه ټولی چاری سرته رسوی چي د رئيسه هييت يا اجراييه شورا له لوری ورته سپارل کيږی .

## 28. اته ويشتمه ماده:

دکنترول مرکزي کميسون:
۱.د دي کميسون غړي د ګوند د رهبری شورا له خوا د ازادو ديموکراتيکو ټاکنو له لاري، د ګوند د کميټو په انډول د (۱۵-۱۰)ترمنځ ټاکل کيږي.
۲.د کنټرول مرکزي کميسون په لومړنۍ غونډه کي خپل رئيس ، د ديموکراتيکو ټاکنو له لاري ټاکي.
۳. د کنټرول مرکزي کميسون ټولي مالي او اداری چاري د ګوند د مرکزي ارګانونو په شمول د تګلاري او کړنلاري مطابق کنټرولوي او څارنه يي کوي .
۴.د کنټرول مرکزي کميسون د خپلو کړنو څخه رهبری شورا ته مسؤليت لري او د خپلو کړنو راپور ورکوي.

## 29. نه ويشتمه ماده :

کميټی او کميسيونونه :
1.د ګوند د اجراييه شورا په واک کي ده چي د اړتيا پر وخت دا لاندی او يا ديته ورته کميټی او کميسيونونه جوړ کړی د رئيسه هييت له منظورۍ وروسته په کار وګماری.

1. د شکايتونو د ارزوني کميټه.
2. دبهرنيو اړيکو کميټه.
3. د علماء ،پوهانو او د نظر د خاوندانوعلمي کميټه.
4. د اولس سره د اړيکو کميټه.
5. د ځوانانو کميټه.
6. د روغتيا کميټه.
7. د ټولنيزو چارو د سمون کميټه.
8. د فساد او فحشا سره د مبارزي کميټه.
9. دجلب اوجذب کميټه.
10. مطبوعاتی او څيرنيزه کميټه.
11. کلتوری او ادبی کميټه.
12. د سپورت کميټه .
13. د محصلينو کميټه.
14. د معلولينو او معيوبينو کميټه

۲.د نوموړو کميټو غړي د اجراييه شورا لخوا د ټول ګوند په کچه په ازادو،مستقيمو او سري رايو د ټاکنو له لاري انتخابيږي.
۳.هره کميټه په لومړۍ ناسته کي خپل رئيس ټاکي او د خپلو کړنو لپاره طرزالعمل جوړه وي نوموړی طرزالعمل د اجراييه شورا د تائيد او تصويب نه وروسته عملاً په کار پيل کوي.
۴. د کنترول له مرکزی کميسيون پرته نوری ټولی کميټی او کميسيونونه د اجراييه شورا په وړاندی مسؤليت لری او له خپلو کړنو څخه راپور ورکوی.

## 30. دیرشمه ماده :

سیمه ایز ارګانونه :
الف ګوند د ټول هیواد په کچه لاندی سیمه ایز ارګانونه لری

1. ولایتي شوراګاني:
۱.دا شورا ګاني د ولایت په کچه د ګوندي چارو مسولیت پر غاړه لري د ولسوالیو او مستقلو ښاري شوراګانو پر رئیسانو برسیره یي نور غړي د ضرورت په کچه په همدغو شوراګانو کي د ټاکنو له لاری ټاکل کیږي دا شورا هم په خپله لومړنی ناسته کې د ټاکنو له لاري خپل مشر یا رئیس ټاکي.
۲.د هر کال په لومړی میاشت کې په ټولو محلي،کلي والي،ښاري،ناحیوي،اولسوالي او ولایتي شوراګانو کي په دیموکراتیکه فضا کې د نوموړو شوراګانو مشران یا رئیسان د ټاکنو له لاري ټاکل کیږي.

2. د ولسوالیو شوراګانې:
دا شورا ګاني په ولسوالیو کي د ګوند مشري پر غاړه لري او غړي یي په هماغه ولسوالی کې د ښاري یا محلی شوراګانو پر مشرانو برسیره په هماغه سیمه کې د ګوندی غړو له منځ څخه په د یموکراتیکه فضا کي د ټاکنو له لاري ټاکل کیږي او په اولنی ناسته کي خپل مشر،معاون اومنشی ټاکي.

3. ښاری شوراګاني :
۱. په اړونده ښار یا ښار ګوټی کي د ګوند پر یو شمیر نخبه اومسلکی غړو برسیره د ناحیو ګوندی رییسان هم په اتوماتیکه توګه د دغی شورا غړی دی.
۲. د دي شورا غړی د ناحیو د شورا ګانو رییسان دی دوی هم خپل مشر په اولنی ناسته کي د ټاکنو دلاری ټاکي.

4. د ناحیو شوراګاني :
۱. د دي شوراګانو غړی د ګوند د جوړو شویو محلی شوراګانو له خوا د دیموکراتیکو ټاکنو دلاری انتخابیږی چي شمیر یي په اړونده سیمه کي د ګوندی غړو او محلی شوراګانو شمیرته په پاملرنی سره ټاکل کیږی .
۲. د اړوندو محلی شوراګانو رییسان په اتوماتیک ډول د دي شورا غړی دی .
۳. شمیر یي په اړونده ناحیه کي د ګوند دغړو او محلی شوراګانو دشمیر په تناسب سره ټاکل کیږی، په اولنی جلسه کي خپل رییس، معاون او منشی د انتخاباتو له لاری ټاکی.

5. محلی شوراګاني:
۱.محلي شوراګانې د خلکو او ګوند ترمنځ د پیوستون کړی ده. داستوګنو په ځایونو کي جوړیږي،دغړو تعداد یي له دریو(۳ ) څخه تر یو ویش ( ۲۱ ) تنو پوري دی.
۲. په کلیو او استوګنځایونو کي د ګوند د غړو شمیرته په پا ملرنی سره کیدای شي څو محلي شوراګاني جوړ ي شي.
۳.د محلي شوراګانو او دهغو د غړو اندازه د مخکنیو دوو فقرو ،محتویاتو ته په پام سره د ولسوالیو او ناحیوي شوراګانو په صلاحیت کي ده، د محلي شورا مشر( رئیس) د پټو مستقیمو،ټاکنو له لاري د محلي شورا د غړو له خوا ټاکل کیږی .

6. کلیوالي شوراګانې:
کلیوالی شوراګانې په هر کلی کي ګوند ته د جلب شویو مخورو کلیوالو څخه په انتخابی ډول یوه شورا جوړه وی چي شمیر یي دهماغه کلی او په هغه کي د غړو د کمیت له مخی ټاکل کیږی او دوی پخپله لومړنی غونډه کي یو تن د خپل مشر په توګه ټاکی .

# اتم څپر کی
# بیلابیل حکمونه
# 31. یو دیرشمه ماده:

۱.ګوند کولای شي سربیره پر سیاسي فعالیت تولیدي،تجارتي او په بیلابیلو اقتصادي برخو کي پانګونه و کړي اود ګوند مالی بنسټ پیاوړی کړی.
۲. دګوند د انحلال په صورت کې دګوند ټوله شتمنی په دولت پوری اړوندیږی
۳.د ګوند اساس نامه چي اته څپرکي او یودیرش مادي لري د دیارلس سوه یو نیوییم (۱۳۹۱) لمریز هجري کال د وږی د میاشتي په شپږ ویشتمه نیټه د ګوند د موسسانو د شورا لخوا ترتیب او تصویب شوه او د ذکر شوي نیټي څخه  دلومړنی کنګری تر دایریدلو او نهایي تصویب  پوری په موقت ډول نافذه اوقابل الاجرآ ده.

و من الله التوفیق